شروع کوم په نامه د خدائے چې بخښونکے او مهربان دے

# پښتونخوا او جمهوري رويې

عبن په دغسې وخت کښې چې په آئين کښې د مشرف د دور د غېر آئيني ترميمونو د ختمولو دپاره يوه پارلماني کمېټي جوړه شوې ده او د ټولو پارټيو نمائندګان پکښې موجود دي او په دغسې وخت کښې چې د مسلم ليګ مشرانو د خپلې جمهوريت پسندۍ ثابتولو دپاره د نورو ملکي مسئلو نه بې نيازه د مشرف په غېر جمهوري ترميمونو ختمولو يوه هله او هځ جوړه کړې ده او د مشرف خلاف په مقدمه ئې په پيپلز پارټۍ يو قيامت راکوز کړے ؤ، دغه غلا چې کله سپيازه کېده او د خلقو توجه کله په سعودي عرب کښې د عمرو په بهانه روانو سرګرمو طرف ته تله او د دوي د چغو او نعرو سُورو نه د دم وتو امکانات پېدا شو او د شور پار او چغو نعرو ورسره هيڅ پاتې نۀ شو نو د موجودې آئيني پارليماني کمېټۍ د هغې دود دستور خلاف ئې هم د کمېټۍ په آئيني پېکج کښې شامله شوې هغه مسئله هم لارو کوڅو ته خامخا رابهر کړه په کومه چې په آئيني کمېټۍ کښې دننه په جمهوري انداز کښې بحث ممکن ؤ.

د هغوي سره چې د خلقو مطمئن کولو هيڅ شے پاتې نۀ شو او په الېکټرانک مېډيا چې ئې کوم کوم اشور پهلوانان د څۀ مودې راهسې سرۀ او زيړ کېدۀ او په چغړيو کښې به ئې فرق نۀ راتلو، اوس چې به هغه مخامخ شو نو هسې به اوبۀ اوبۀ شو، ځکه چې د اداکارۍ سکرپټ خو ئې حالاتو د مخې نه رانښکلے ؤ، نو د پښتونخوا مسئله ئې رابهر کړه او وړومبۍ پته ئې په احسن اقبال مېز ته راواچوله، هغۀ ووې چې دا ډېر بې معنې نوم دے، د افسوس خبره خو دا ده چې يو دغسې سړے چې خدائے خبر د خپلې پېژندګلو توان پکښې هم شته کۀ نۀ، هغه د يو پوره قام پوهې او فکر ته په دومره موده پسې دا دعوت ورکوي چې ګنې تاسو پوهېږئ نۀ خو دا نوم بې معنې دے يعنې يو تاريخي قام له به د معنې نه ډک نوم دے خوښوي؟ او بيا د دوي د پروپېګنډې دغه شريک پلان په ګړۍ ساعت کښې د نواز شريف د خُلې نه رابهر کېږي او ريفرنډم طرف ته ځي خو هغه د شاعر خبره چې:

اشنا وې نـهٔ مـې تـهٔ څـهٔ ئـې او نـهٔ هغـه خونـه ړنـګ
کـــهٔ څـــهٔ راځـــي مـــا لـــه راځـــي د رقابـــت د کـــوره

خو د رقابت د کوره په خوراک دغـه مارهٔ خلق د خپلو دروغژنو منصوبو او سازشونو د هغې ماشوړې نه هم نهٔ دی خبر چې بیا به ئې دوي له هم سر په ګوتو ور نهٔ شی. خلق اوس په دې پوهېږي چې کهٔ د مشرف په غېر آئیني ترمیمونو ختمولو کښې دوي واقعي مدعیان وے نو دغسې پلان به ئې نهٔ جوړوو ځکه چې نهٔ یواځې د اې این پي خلق د دې ملک په سیاست کښې یو اهم تاریخي او جمهوري رول لري بلکې په هم دغو مسئلو د یو بل اتحادیان هم دي. د دې بل مطلب دا شوچې د دوي د خُلو نه نهٔ یواځې د مشرف د ټرائل ځګ ځګی وواتهٔ بلکې د مشرف د غېر آئیني ترمیمونو د خاتمې دپاره هم د تذبذب ښکار دي. په دې حقله د اې این پي د صوبائي صدر سېنېټر افراسیاب خټک په وخت پرېس کانفرنس د دوي د دغو شنډو سازشونو نه پردې پورته کړې. خټک صېب په صفا ټکو کښې ووې چې د پښتنو خلاف سازشونه بندول پکار دي، کهٔ د نوم په حواله خبره ریفرنډم ته شوه نو مونږ د پنجاب په نوم هم د ریفرنډم مطالبه کولې شو. افراسیاب خټک صېب ووې چې یوه آئیني او جمهوري مسئله په دې طریقه لارو کوڅو ته راوړل خلق جنګول دي. د دغسې کردار نه لاس اخستل به زیات ضروري او جمهوري رویه وي. خټک صېب ووې چې شپېتهٔ کاله وشو چې د دې ملک حکمرانانو زمونږ صوبه په هر مېدان کښې نظر انداز کړې ده او چې دا وخت په خپله صوبه کښې د صوبې حکومت د خپلو نورو حقونو د حصول دپاره او د صوبې د نوم دپاره کوم اواز پورته کړے دے او کومه جمهوري لار ئې اختیار کړې ده نو مسلم لیګ (ن) د هغې مخالفت شروع کړے دے چې دا د پښتنو خلاف یو سازش دے. هغهٔ ووې چې زمونږ صوبه د پاکستان په نقشه کښې هیڅ نوم نهٔ لري او د شپېتهٔ کلونو نه ئې مونږ بې نومه وساتلو، اوس چې د صوبې حکومت د نوم دغه مسئله امکاناتو ته وررسولې ده چې په بین الاقوامي سطح هم ورته پښتونخوا وئیلې شوې ده نو مسلم لیګ (ن) والوو خپله سازشي لوبه شروع کړه مونږ په دې کښې کامیاب شوي یو چې صدر او وزیراعظم په پارلیمنټ کښې او د ایوانِ صدر په فورمونو او غېر ملکي دورو کښې هم دغه صوبې ته پښتونخوا وئیلې دي. د دې نه معلومېږي چې د ملک د سیاسي قیادت د دې نوم سره هیڅ اختلاف نشته، ځکه نو د جمهوریت پسندۍ نمائشي نعره بازان چې کله د جمهوریت نوم اخلي نو کم از کم چې د اې این پي د خلقو جمهوري رول او رویه هم د نظر نه ونهٔ غورځوي او د پښتونخوا صوبې د دوؤ قراردادونو د یوې ازادې او جمهوري فېصلې خیال هم وساتي.